# بُست

علمي او څېړنیزه مجله

ټوک : دریم

ګڼه : دوهمه

کال : ۱۴۰۳

بسم الله الرحمن الرحيم

# بُست علمي او څېړنيزه مجله

**بُست پوهنتون**

**دريم ټوک – دوهمه ګڼه**

**کال – ۱۴۰۳**

# بُست علمی او څېړنیزه مجله
# بُست پوهنتون

**د امتیاز خاوند**: بُست پوهنتون

**مسئول مدیر:** ډاکټر ذبیح الله انوري

**سردبیران**: پوهندوی دوکتور علي احمد احمدي او خان محمد وفا

**د مجلې بورډ**

- ✓ پوهندوی دوکتور عبدالوهاب حکمت
- ✓ پوهندوی عبدالعزیز صابر
- ✓ پوهنمل حنیف الله باوري
- ✓ پوهاند دوکتور خال محمد احمدزی
- ✓ پوهندوی رضوان الله مملوال
- ✓ ارسلان وطندار
- ✓ پوهنیار بشیر احمد بابازوی

**کتنپلاوي**

- ✓ پوهنوال دوکتور احمد جاوید پویش
- ✓ پوهنوال نقیب الله مجددي
- ✓ پوهندوی دوکتور نجیب الله مجددي
- ✓ پوهندوی دوکتور علی احمد
- ✓ پوهندوی دوکتور غلام رسول فضلي
- ✓ پوهندوی نیاز محمد زاهدي
- ✓ پوهندوی ګل محمد اعظمي
- ✓ پوهندوی عبدالولي هجران
- ✓ پوهنیار عبدالولي همت
- ✓ خان محمد وفا
- ✓ ډاکټر ذبیح الله انوري

**ډیزاین**: د بُست پوهنتون د څېړنیزو او فرهنګي چارو مدیریت

د خپرولو کال: ۱۴۰۳

**درک**: بُست پوهنتون، لښکرګاه، هلمند، افغانستان

## د بُست پوهنتون د رئیس پیغام

په نني ژوند کې د یوې علمي مؤسسې یو له مسؤلیتونو څخه دا دی ، چې نه یواځې خپل محصلان د پوهې په ګاڼه سمبال کړي، بلکې د پوهنتون د لوړو زده کړو لرونکو پوهانو او استادانو د علمي زیرمتون څخه داسې څه وخت په وخت راوباسي، چې د ټولنې د ژوند د اړتیاوو د پوره کولو لپاره او یا لږ تر لږه د ټولنې د لوستې قشر د خبرولو او که وکولای شي له هغوی څخه د عمل په ډګر کې د ګټې اخیستنې په موخه ، په کار واچول شي.

و دې موخې ته د رسیدلو لپاره پوهنتون باید یو داسې علمي خپرندویه ارګان ولري، چې په هغه کې د پوهنتون ټول با صلاحیته منسوبین که هغه استاد وي، که کارکوونکی او که زده کړه یال ، خپلې علمي او څېړنیزې مقالې او لیکنې د کاغذ پر مخ باندې کښیښودلای شي.

زما په شخصي آند پدې مجله کې لکه له نوم څخه چې یې ښکاري، باید داسې مسائل را برسیره شي، چې نه یواځې په پوهنتون پورې راګیر پاتې شي، بلکې په عام ډول سره د افغاني ټولنې او په ځانګړي ډول سره د هلمند ولایت د اوسیدونکو و نني او سبا ژوند ته په کتلو سره، بریالیتونونه، ستونزې ، وړاندیزونه او د حل لارې-چارې ، وړاندې کړل شي.هغه وخت به د بُست پوهنتون علمي مجله یواځې د بست پوهنتون نه، بلکې د ټول هلمند ولایت ، آن د سیمې او ټول افغانستان په کچه د پوهې او څېړنې په برخه کې د وخت د غوښتنو سره سم ، د پاملرنې وړ او ځوان نسل ته د یوې سمې لارې د ښودلو په موخه ، یوه محبوبه او پر زیاتو خلکو باندې ګرانه مجله وي او په ټول هیواد کې به خپل مینه وال ولري.

دا مجله به د بُست پوهنتون د مشرتابه، استادانو ، محصلانو ، فارغانو او ټولو مینه د علمي او څېړنیزو مقالو د خپرولو لپاره که هغوی د پوهې په هر ډګر کې چې وي، یو خپرنیز ارګان وي،چې و خپریدلو ته به یې ټول مینه وال په تمه ناست وي.څومره به پرځای او ښه خبر وي، چې د ټولنې لوستی قشر په تیره بیا د بست پوهنتون محترم استادان ، فارغ شوي او بر حاله محصلان د علمي او څېړنیزو مقالو و لیکلو ته و هڅول شي.

زه د بُست پوهنتون د ټولو منسوبینو په استازیتوب ویاړ لرم ، چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې د خپریدلو له امله د محترم مؤسس، محترم علمي مرستیال او د څېړنې له محترم آمر او همدا رنګه د مجلې له ټولو کارکوونکو او پرسونل څخه د زیار او زحمت په ګاللو سره چې مجله یې و خپریدلو ته چمتو کړې ده ، مننه او قدرداني وکړم، ټولو ته د زړه له کومې مبارکي وایم او هیله لرم چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې کارکوونکي به خپل رسالت د پوهنتون او ټول هلمندې ولس او په اخری تحلیل کې د ټول افغان ملت پر وړاندې په پوره او ټینګ عزم سره سرته ورسوي.

**په درنښت**

**ډیپلوم انجنیر محمود سنګین**

**د بُست پوهنتون رئیس**

# سریزه

بُست پوهنتون ویاړ لري چې د خپل علمي پرمختګ په لاره کې یې یو بل ډېر مهم او اړین ګام پورته کړ او هغه د بُست د علمي او څېړنیزي مجلې د دریم ټوک، دوهمي ګڼې خپرېدل دي . تر هر څه دمخه د پوهنتون ټولو استادانو، محصلانو او د علم او پوهې د لوی کور مینه والو ته د بُست د علمي او څېړنیزي مجلې د خپرېدلو مبارکي وړاندې کوم او ددې سره جوخت د ټولو ملګرو څخه چې ددې مجلې د جواز په تر لاسه کولو، ترتیبولو او خپرولو کې یې نه ستړې کېدونکې ونډه اخیستې ده د زړه له کومي مننه کوم.

د علمي کور کهول او اړوند کسانو ته ښکاره ده  او پوره باور لري چې د نننی نړۍ هر اړخیزه پر مختګ د پوهانو د علمي څېړنو د زیار له برکته ممکن سوی او د لوړو زده کړو مؤسسي، اکادمیک انستیتوتونه او څېړنیز علمي مرکزونه پکښې مرکزي او پریکنده رول لوبولی دی.

همدې اصل او ارزښت ته په کتو سره بُست پوهنتون غواړي د پرمختللو اکاډمیکو نورمونو په رعایت د تدریس، علمیڅېړنو او نوښتونو له لاري مسلکي کادرونه وروزي  او د معیاري تحصیلي اسانتیاوو او زمینو په برابرولو سره د ټولنې ځوانانو ته معیاري او د لوړ کیفیت لوړې  زده کړي وړاندی او د علمیڅېړنو پر بنسټ د کره پوهنیزو اثارو د تولید زمینه برابره کړي ، ترڅو د لوړو زده کړو او مسلکي پوهې په ډګر کې د ګټورو مهارتونو په تر لاسه کولو او د خپلو رښتینو اهدافو په لاسته راوړلو سره د ټولنې او هیواد په پرمختګ او رغونه کې رغنده ونډه واخلي او د رښتیني خدمت جوګه شي.

ژمن یو چې د هلمند ولایت، ګاونډیو ولایتونو او په ټول هیواد کي ځوان نسل ته د اسلامي ، ملي او کلتوري ارزښتونو په رڼا کي معیاري د علمي او مسلکي لوړو زده کړو او پراخو علمي څېړونو زمینه برابره او ټولني او هیواد ته ژمن او روزل سوي کادرونه وړاندي کړو.

د اوس لپاره د بُست علمي او څېړنیزه مجله یوازي د **سائینسي علومو** په برخه کې علمي او څېړنیزي مقالي او لیکني د چاپ او نشر د تګلارې سره سم مني او خپروي او هیله مند یو چې په راتلونکې کي به نوري برخي هم ور زیاتي کړل سي.

ډاډ لرم چې د بُست پوهنتون استادان، محصلان او علمي کارمندان به انشأالله، نن، سبا او په راتلونکې کې د خپلي علمي څېړنیزي مجلې د خپرولو له لاری خپل دغه دروند خو  ویاړلی دین (پور) ادأ کړي. همدا ډول ټولو د علم او پوهي څښتنانو او مینه والو ته  په مینه سره بلنه ورکوو چي ددی علمي او څېړنیزي مجلي او د بُست پوهنتون د پرمختګ په لاره کي خپلي علمي او څېړنیزي لیکني، آندونه، وړاندیزونه او رغنده  نیوکي  او مرستي د تل په شان  راولوروۍ  او د علم  ددي ستر کور په ودانولو کي د خپلي دیني، او ملي برخي د اداینې ویاړ راوبخښی.

موږ هوډ کړیدي او هیله مند یو چي انشآ الله  د وخت په تیریدو سره به د خپل هیواد و بچیانو او ځوان نسل ته د تدریس ، ښه روزني او څېړنیز هاند لپاره  اړیني او د پام وړاسانتیاوي برابري کړو تر څو په لومړي پړاو کښي خپلو هلمندوالو بیا د سهیل لویدیځي حوزي او په پاي کښي و ټولو هیوادوالو ته د یو داسي چوپړ مصدر وګرځي چي زموږ د ځوریدلي اولس او ویجاړشوي هیواد اقتصادي، فرهنګي، سیاسي او ټولنیزي ستونزي حل او افغانستان د نړي د پرمختللوهیوادونو په لیکه کي ودریږي.

# لړلیک


| د صفحی شمیره | | د مقالی عنوان |
| --- | --- | --- |
| 1 | ------- | **د پلاستیک په واسطه د محیط ککړتیا او په لښکرګاه ښار کي د پلاستیکي کڅوړو د مصرف اندازه**<br>پوهندوی عبدالولي هجران[۱*]، حبیب الرحمن[۲]، بريالي[۳]، افتخار[۴] |
| 7 | -------------------------------------- | **د هلمند ولایت په مارجه ولسوالی کي د پنبې پر تولید د وچکالی اغېزې**<br>پوهندوی دوکتور علي احمد[۱*] او ارسلان وطندار[۲] |
| 16 | ------------------------------------------- | **Introduction to Farm Management and Its Importance**<br>Sayed Abdul Wahab Saeedi[1*] and Mir Wais Nazari[2] |
| 28 | -------------------- | **په افغانستان کې مشهوره زهري نباتات او پر اهلي حیواناتو باندي د هغو منفي اغیزې**<br>محمدالدین خادم[۱*]، پوهنیار عبدالفهیم سروري[۲] او پوهنمل محمدآمان احمدزي[۳] |
| 38 | ----- | **د لښکرګاه ښار په دوو کلیوو کاریز او قلعه بُست کي د انګورو پرتله کولو اقتصادي تحلیل کال (1403)**<br>پوهنوال نقیب الله مجددي[۱*]، ارسلان وطندار[۲]، پوهنیار بریالی رفیع[۳] |
| 52 | ------------- | **An Overview of Introduction, Importance and Types of Natural Resources**<br>Dr. Mohammad Shafi Akhundzada[1*] and Mir Wais Nazari[2] |
| 61 | --- | **د هلمند ولایت په باباجي ولسوالی کي د ریحانو د تولید لګښت، ناخالصه ګټه، خالصه ګټه او مارکیټینګ چینلونو تحلیل ( کال ۱۴۰۲ )**<br>پوهندوي دوکتور علي احمد[۱*] او امان الله نیازی[۲] |
| 71 | --------------- | **د هلـــــمند ولایت په ناوې ولـسوالی کي د پنبې د تولید اقتصادي تحلیل کال (۱۴۰۲)**<br>میرویس نظري[۱*] او محمدالدین خادم[۲] |
| 80 | -------------------------------------- | **د سردار ګل محمد خان صنعتي پارک د ودي پر وړاندي خنډونه**<br>ارسلان وطندار[۱*]، پوهندوی دوکتور علي احمد[۲]، عبدالقدیر خادم[۳] |
| 88 | ------------------------------------------------------------------ | **د هلمند ولایت د اوبو د سپما طرحه**<br>محمد یوسفي[۱*]، ګل احمد احمدي[۲]، فیض محمد فیضي[۳]، عبدالحنان اغا[۴]، شیراغا خپلواک[۵]، خیرالله مزمل[۶] او محمد اقبال[۷] |

# د هلـــــمند ولایت په ناوې ولسوالۍ کې د پنبې د تولید اقتصادي تحلیل کال (۱۴۰۲)

میرویس نظري[1*] او محمدالدین خادم[2]

[1]اداره او تشبثات څانگه، اقتصاد پوهنځی، بُست پوهنتون

[2]اگرانومي څانگه، کرهنی پوهنځی، هلمند پوهنتون

د مسؤل ایمیل ادرس: mw.nazari@hotmail.com

## لنډیز

دا څېړنه د هلمند ولایت په ناوې ولسوالۍ کې د پنبې د تولید اقتصادي تحلیل تر سرلیک لاندې په 1402 هـ ش کال کې ترسره سوې ده. د څېړنې عمده موخې د پنبې د تولید لگښت معلومول او د پنبې د تولید مجموعي او خا لص عواید معلومول، د مارکیټینگ چېنلونه موندل او د پنبې په تولید کې خنډونه معلومول او د حل لارو وړاندې کول دي. د څېړنې لپاره مو د هلمند ولایت ناوه ولسوالي په قصدي ډول وټاکل او په دې ولسوالۍ کې (75) ځواب ورکوونکي په تصادفي ډول انتخاب کړل او پنځه کلي مو په قصدي ډول و ټاکل، تر څو د یادو ځواب ورکونکو (کروندگرو) څخه د مرکو او پوښتنپاڼو له طریقه لومړني معلومات ترلاسه کړو. د دوی کروندې مو په دریو کټگوریو و وېشلې کوچنی (2-1 جریبه)، (میانه 4 -2 جریبه) او (لوی 6- 4 جریبه) چې د هري کروندې لپاره مو (25) ځواب ورکوونکي په تصادفي ډول انتخاب کړل. د څېړني په نتیجه کي مو دا وموندل چې د کوچنی، میانه او لویو کروندو د تولید لگښت په ترتیب سره (31719.32)، (67484.52) او (103629) افغانۍ په اوسط ډول دی. د کوچنی، میانه او لوی کروندې ټوله عواید په ترتیب سره (51751.26)، (116042.752) او (165404.88) افغانۍ په اوسط ډول په لاس راغلي دي. د کوچنی، میانه او لوی کروندې خالص عواید په ترتیب سره (20032.26)، (48558.232) او (61775.88) افغانۍ په اوسط ډول دي. د کروندگرو عامه پوهاوی، د پروسیس فابریکو نشتوالی او د کیمیاوي کود او درملو بې کیفیتي د پنبې د تولید د عمده ستونزو څخه عبارت دي.

**کلیدي کلمې:** پنبه، د تولید لگښت، مجموعي عواید، خالص عواید، د مارکیټینگ چېنلونه او ستونزي.

## سریزه

خپله cotton یوه انگلیسي کلیمه ده، چې له فو تن یا کوتن عربي کلیمو څخه یې منشا اخیستې ده، چې د نازکي او نفیسي پارچې په معنی ده. مبدا او منشا د دې نبات نا معلومه ده، Walt یو انگلیسي عالم وو، داسي نظر یې ور کړي چي karpasi د سانسیگریټ کلیمه ده او پنبې ته اطلاق کیږي. په لاتیني ژبه ورته cabasus او په یو ناني ژبه ورته kaposos وایې ډېر پخوانی ر یکا ډ چي 3000 کاله مخکي د مېلاد څخه د پاکستان په غربي برخه یعني د سیند د دریاب د غاړي څخه لاس ته راغلی دی، او همدارنگه 3800 کاله مخکي دا نبات په مکسیکو کي موجود وو او گټه تري اخیستل کېده. Marco polo په 13 پیړي کي د خپل سفر چي اسیا ته یې درلود، دا سي نظر ښکا ره کړ، چي هند ډېر ښکلي او نفیس ټوکران تولیدوي چي په نړۍ کي یې سا ری نسته چي عبارت له پنبې څخه ده، Columbus په 1492 کال کي کله چي د امریکا براعظم ته ور سېدی، د پنبې نبات یې په شمالي او جنوبي امریکي په جزایرو کي ولید، د پنبې نبات پخوانی منشا هند وو، خو د معاصري نړۍ منځته راتگ سره د پنبې اصلي مرکز جنوبي او مرکزي امریکا ده، چي په نوي ډول حاصل ورکوو نکي ورایټي یې منځته راوړې ده، چي په اوسني وخت کي د نړۍ 90 ٪ د پنبې د کښت مځکه اپلنډه پنبه ده او نوره برخه یې مصري او نور ډولونه دي، د پنبې ستر تولیدوونکي هیوادونه د نړۍ تر ټولو مهم تولید کوونکي هیوادونه یې د امریکا متحده ایالات، د روسې فیدراتیف، چین، هندوستان، برازیل، مکسیکو، پاکستان، ازبکستان، مصر، ترکیه، ایران، او لږ اندازه افغانستان دی، د نړۍ د نورو هیوادونو په پرتله په افغانستان کي د پنبې کرنه کمه ده، سبب یې د عصري ټکنالوجي نشتوالی دی، د راپورونو سره سم په کال 1998 کي 29000 هکتاره مځکه کي پنبه کرل سوي چه 60000 ټنه حاصل یې کړی دی، پنبه د یوه مُهم زراعتي محصول په توگه د بشر په اقتصادي ژوند باندي د توجع وړ اغېزه لري، په افغانستان کي پنبه له مُهمو محصولاتو څخه ده چي د بهرنیو اسعارو د لاسته را وړلو لپاره د قره قل پوستکو وروسته په دریمه درجه کي ځای لري، د پنبې الیاف 56 ٪، غوړي 20-27 ٪، او تقریباً کنجاره 40 ٪ پروټین لري. په افغانستان کي له پخوا را هیسي دوه ډوله پنبه کرل کیږي چي حاصلات یې کورنۍ اړتیاوي پوره کوي، چي عبارت له کوکلي او جیکټو څخه دي دا ورایټي په شمالي او ختیځو و لایتونو کي کرل کیږي پنبه د صنعتي نباتاتو له ډلي څخه یو گټور او ارزښتناک نبات دی او د څو کلنو نباتاتو په ډله کي راځي، مگر د نړۍ په ډېر شمېر هیوادونو کي د یو کلن بوټي په څېر کار څیني اخیستل کیږي. پنبه د نړي د 60 څخه په ډېرو هیوادونو کي کرل کیږي چي د هغو د جملې څخه عمده تولیدوونکي هیوادونه له چین، هند، روسیه، مکسیکو، برازیل، پاکستان، سوډان او ترکیې څخه عبارت دي او د کر ټوله ساحه یې 35 میلیونه هکټاره ځمکه ښودل سوېده. په 1971 کال کي پنبه په گران هیواد افغانستان کي د سپینو زرو ځاي لری او همدغه سبب دی چي د کرلو ساحه یې ورځ تر بلي مخ په زیاتېدو ده. پنبه سربېره پر دې چي د گران هیواد په نساجي کي د ډول ډول ټوکرانو د اوبدلو لپاره ورځني استفاده کوي د هیواد د صادراتي موادو یو ستر قلم هم تشکیلوي. د پنبې په دانه کي د 27-20 فیصده پوري غوړي سته او په ډول ډول خواړو کي ترېنه استفاده کیږي د پنبې الیاف د نړۍ د الیافو 56% پوري تشکیلوي هغه کنجاړې چي د پنبې داني څخه تر لاسه کیږي تر 40% پوري پروټیني مواد لري او همدارنگه پوټکی یې د پنبې دانې فرعي محصولات تشکیلوي د څارویو لپاره ښه غذا ده (ډاډ من، 1391 م).

**د ستونزي بیان:**

ز موږ په هیواد کي یوه غټه ستونزه داده چي د پنبې مار کیټ د یو څو نفرو په لاس انحصار سوي دی، د پنبې پر تولید باندي د منظم مارکیټ او پروسیس نشتوالي زیات کروندگر دې ته اړ کړي دي چي دوی خپل حاصلات په ارزانه بیه خرڅ کړي او یا نورو هیوادونو ته صادر کړي، د پنبې پر تولید باندي د کیمیاوي او حیواني سرو د بیو زیاتوالی دی، نو ځکه کروندگر په زیاته کچه تولیدات لاسته نه سي راوړلای او د عصري کرنیزو ماشین الاتو او ابیارۍ ستونزو کروندگر د دې سره مخ کړي دي چي د تولیدا تو په زیاتوالي کي کموالی راسي او د پنبې د اصلاح سوو ورایټیو کموالی او د کیمیاوي درملو د دوا پاشلو په اړه کروندگرو ته عامه پوهاوی نه دی ور کړل سوي، نو له دې امله نه سي کولای چي لوړ حاصلات لاسته ته راوړي.

**د څېړني اهمیت:**

افغانستان یو کرنیز هیواد دی، چي د غلجاتو برسېره د صنعتي نباتاتو او کرنیزو تولیداتو یو ستره برخه تشکیلوي چي هر کال یې یوه زیاته اندازه له هیواده بهر نورو هیوادونو ته صا دریږي، افغانستان د یو زیات شمېر صنعتي نباتاتو اصلي ټاټوبی گڼل کیږي. د صنعتي نباتاتو د روزولو له پلوه افغانستان هم یو ښه حاصل ورکوونکی هیواد دی، دا چي د افغانستان زیاتره سیمي په ژمي کي سړې او په دوبي کي گرمي وي، نو دا اقلیمي شرایط د صنعتي نباتاتو د روزولو لپاره خورا مناسب بلل کیږي. د څېړني د موخو پر بنسټ غواړم چي د هلمند ولایت ناوې ولسوالی

کې د پنبې د تولید اقتصادي تحلیل ترسره کړم نو زما د موضوع اهمیت په دې کې دی، چې د دې څېړنې په بشپړولو سره به ټولې هغه ستونزې و څېړم چې د ناوې ولسوالۍ کروندګر یې د پنبې پر تولید باندې لري او د دې څېړنې څخه به په راتلونکې کې سکتوري او غیر سکتوري اداري د بېلابېلو پوهنتونونو استادان او محصلان ګټه پورته کړي. تر اوسه په دې اړه څېړنه نه ده تر سره سوې. دا څېړنه به په ناوه ولسوالۍ کې د پنبې د تحلیل په اړه دقیق معلومات وړاندې کړي.

**د څېړنې موخې:**

- د پنبې د تولید د لګښت معلومول.
- د پنبې د نا خالصو او خالصو عواید و تحلیل کول.
- د پنبې د مار کیټینګ د چېنلونو موندل.
- د پنبې په تولید کې خنډونه معلومول او د حل لارې وړاندې کول.

## مواد او کړنلاره

**الف: د څېړنې ځای او وخت:** دا څېړنه په هلمند ولایت نا وې ولسوالۍ کې د پنبې د تولید اقتصادي تحلیل تر عنوان لا ندې په (1402) هـ ش کال کې تر سره سول .

**ب: د څېړنې ډیزاین:** د څېړنې له پا ره د هلمند و لایت نا وه و لسوالي په قصدي ډول وټاکل څکه چې په دې ولسوالۍ کې پنبه ز یا ت کرل کیږي او پنځه ( 5 ) کلي خرابه، نیګا رې، کښته بلا ک، چلو دو، شین پل، په تصا د في ډ ول ا نتخاب کړه او په دې سا حه کې مو (75) څواب ورکوونکي (کروندګر) په تصا د في ډول انتخا ب کړه او د کروندګرو څخه مو د دوی د ځمکو اړوند معلوما ت د مرکو او پو ښتنلیکونو له لارې را ټول کړه. د پنبې کروندې مو په درېو کټګوریو ووېشلې چې په لاندې جدول کې ښودل سوې دي.

**1 جدول: د پنبې د کروندو کټګورۍ**

| شماره | د کروندې ډول | د ځمکې اندازه (جریب) |
|---|---|---|
| 1 | کوچنۍ کروندې | 1 – 2 |
| 2 | میانه کروندې | 2 – 4 |
| 3 | لوی کروندې | 4 – 6 |

**د هرې کټګورۍ څخه مو 25 کروندې انتخاب کړې، چې په پورته جدول کې ذکر سوې دي.**

**ج: د څېړنې مواد:** په څېړ نه کې مو د لومړنی او د وهمې معلوما تو څخه کار اخیستی دی. لومړنی معلو ما ت مو د هلمند د لا یت نا وې و لسوالی د پنځو کلیو د ګروند ګرو (څواب ورکوونکو) څخه د پو ښتنپا نو او مرکو په ډ ول را ټول کړه او د وهمې معلوما ت مو د ملې او نړیوالو ژورنا لونو، معتبرو کتابونو، ډاټا بیسونو او ویبسایټونو څخه راټول کړي دي.

**د: ا حصا یوي تحلیل:** د څېړنې را ټول سوې ارقام او معلومات په (Excel) پروګرام کې تحلیل سوې دي.

## نتیجه او مناقشه

**1 . د څواب ورکوونکو پېژندنه:**

د څېړنې لپاره معلومات د ناوې ولسوالۍ د پنبې د (75) تنه کروندګرو څخه راټول سوې دي. د څېړنې پایلې وښودل چې د څواب ورکوونکو له جملې څخه (26.96%) ســلنه د 30 – 20 کلونو تر منځ عمر لري، (32.8%) ســلنه د 40 – 30 کلونو تر منځ عمر لري، (43.41%) ســلنه د 50 – 40 کلونو تر منځ عمر لري او (63.56%) ســلنه یې هغه کسان دي چې د 50 کلونو څخه زیات عمر لري.

**2 جدول: د کروندګرو د عمر کچه**

| اوسط یې | د کروندګرو شمېر | د کلونو اندازه |
|---|---|---|
| 26.96 | 27 | 20 - 30 کلونه |
| 32.8 | 20 | 30 - 40 کلونه |
| 43.41 | 12 | 40 - 50 کلونه |
| 63.56 | 16 | 50 کلونو څخه لوړه |
| 100.0 | 75 | Total |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

**2. د کروندګرو د زده کړې کچه:**

په (2) شکل کې لیدل کیږي چې د کروندګرو د زده کړې کچه راښیي. هغه کسان چې تعلیم نه لري 26% سلنه دي او هغه کسان چې لومړنی زده کړې لري 30% سلنه دي او هغه کسان چې دوولسم پاس دي 23% سلنه دي او هغه کسان چې زده کړې یې تر لیسانس دورې پورې کړې وي 21% سلنه دي.

1 شکل: د کروندګرو د زده کړې کچه




منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات 1402هـ ش

### 3. د پنبې د تولید لګښت، مجموعي او خالص عواید:

د څېړنې په دې برخه کې د ناوې ولسوالۍ په (5) پنځو کلیو کې د کروندګرو د تولید د لګښتونو او لاسته راتلونکو عوایدو تحلیل او محاسبه تر سره سوې ده. د دوی د کروندې سایز ته په کتو په درېو کټګوریو باندې وېشل سوي دي، هغه کروندګر چې د 2 - 1 جریبه د پنبې کرونده لري د کوچنې سایز کروندګر بلل کیږي، هغه کروندګر چې د 4 - 2 جریبه کرونده لري د میانه سایز کروندګر بلل کیږي او هغه کروندګر چې د 6 - 4 جریبه د پنبې کرونده لري د لوی سایز کروندي کروندګر بلل کیږي. چې د هري کټګورۍ د تولید لګښت په لاندي ډول سره ښودل سوی دی.

### 1 - د کوچنۍ کروندې د تولید لګښت، مجموعي او خالص عواید:

په ناوه ولسوالۍ کې هغه کروندګر چې د 2 – 1 جریبه د پنبې کرونده لري په اوسط ډول 1168.2 کیلو ګرام د پنبې حاصل په یو فصل کې تر لاسه کوي، یوه څېړنه چې د ترکیه په هیواد کې د پنبې د تولید اړوند تر سره سوې وه. د تولید اندازه یې په اوسط ډول 5357.2 کیلو ګرامه في هکتار ښودلې ده (Yesim et al., 2022). همدا ډول د (Reddy et al., 2020) له لوري د تیلنګانا ایالت په ورنګل ولسوالۍ کې لاسته راغلې پایله ښیې چې د پنبې د کوچنۍ کروندې د تولید لګښت په اوسط ډول 75642.53 روپۍ ښودلې دي، د نوموړو د تحقیق نتیجه زما د موندنو سره ورته والی لري. د تولید مجموعي لګښت یې په اوسط ډول 31719.32 افغانۍ دي، د هر کوچني سایز کروندګر د خرڅلاو مجموعي عواید په اوسط ډول 51751.26 افغانۍ، خالص عواید یې په اوسط ډول 20032.26 افغانۍ او د هر فصل څخه پر فی جریب څمکه 584.1 کیلوګرامه د پنبې حاصل تر لاسه کوي چې د هر جریب خالص عواید یې په اوسط ډول 10016.13 افغانۍ دي(۵ جدول) .

| شماره | مشخصات | | مبلغ (افغانی) |
|---|---|---|---|
| 1 | د خر څلاو مقدار په کیلو ګرام | | 1168.2 |
| 2 | د فی کیلو ګرام قیمت | | 44.3 |
| 3 | د خر څلاو مجموعي عواید | | 51751.26 |
| 4 | د تولید لګښت | | |
| 5 | د ځمکي اماده کول | | 2280 |
| 6 | ابیاری | | 3179.92 |
| 7 | کیمیاوي کود | UREA | 4326 |
| | | DAP | 5930 |
| 8 | کیمیاوي درمل | | 1854 |
| 9 | تخم | | 1648.2 |
| 10 | روز مزد | | 1840 |
| 11 | بزګري | | 7027.2 |
| 12 | زکات | | 2558 |
| 13 | استهلاک | | 1076 |
| 14 | د تولید مجموعي لګښت | | 31719.32 |
| 15 | خالص عواید | | 20032.26 |
| 16 | د حاصلاتو مقدار في جریب په کیلو ګرام | | 584.1 |
| 17 | في جریب خالص عواید | | 10016.13 |
| 18 | د ګټورتیا نسبت / Profitability ratio | | 0.631 |
| 19 | د لګښت د ګټې / Cost benefit ratio نسبت | | 1.631 |

منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات

2 شکل: د کوچنی کروندو د تولید لګښت، مجموعي او خالص عواید




منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات

**2 - د میانه کروندو د تولید لګښت، مجموعي او خالص عواید:**

په ناوې ولسوالۍ کې هغه کروندګر چې 4 – 2 جریبه د پنبې کروندې لري په اوسط ډول 2590.24 کیلو ګرامه د پنبې حاصل په یو فصل کې تر لاسه کوي. یوه څېړنه چې د ترکیې په هیواد کې د پنبې د تولید اړوند تر سره سوې ده د تولید اندازه یې 1071.4 کیلو ګرام فی جریب ښودلې ده (Yesim et al., 2022). د نوموړي د تحقیق نتیجه زما د څېړنې د پایلې سره ورته والی لري. د تولید مجموعي لګښت یې 67484.52 افغانۍ دی. یوه څېړنه چې د تیلنګانا ایالت په ورنګل ولسوالۍ کې د پنبې د تولید اړوند تر سره سوې ده د تولید لګښت یې په اوسط ډول 79389.55 افغانۍ ښودلی دی (Reddy et al., 2020). د نوموړي لاسته راغلې پایله زموږ د څېړنې د پایلې سره ورته والی لري. د میانه سایز کروندګر د خرڅلاو عواید په اوسط ډول 116042.752 افغانۍ، خالص عواید یې په اوسط ډول 48558.232 افغانۍ او د هر فصل څخه پر فی جریب څمکه 647.56 کیلو ګرامه د پنبې حاصل تر لاسه کوي، چې د هر جریب خالص عواید یې په اوسط ډول د 12139.558 افغانۍ کیږي (٦ جدول).

4 جدول: د میانه کروندو د تولید لګښت، مجموعي او خالص عواید

| شماره | مشخصات | | مبلغ (افغانی) |
|---|---|---|---|
| 1 | د خرڅلاو مقدار په کیلو ګرام | | 2590.24 |
| 2 | د فی کیلو ګرام قیمت | | 44.8 |
| 3 | د خرڅلاو مجموعي عواید | | 116042.752 |
| 4 | **د تولید لګښت** | | |
| 5 | د ځمکې اماده کول | | 4559.6 |
| 6 | ابیاری | | 5645 |
| 7 | کیمیاوي کود | UREA | 868568 |
| | | DAP | 14862.4 |
| 8 | کیمیاوي درمل | | 3804 |
| 9 | تخم | | 3541.28 |
| 10 | روز مزد | | 2696 |
| 11 | بزګري | | 16315.2 |
| 12 | زکات | | 5731.36 |
| 13 | استهلاک | | 1644 |
| 14 | د تولید مجموعي لګښت | | 67484.52 |
| 15 | خالص عواید | | 48558.232 |
| 16 | د حاصلاتو مقدار فی جریب په کیلو ګرام | | 647.56 |
| 17 | فی جریب خالص عواید | | 12139.558 |
| 18 | د ګټورتیا نسبت / Profitability ratio | | 0.719 |
| 19 | د لګښت د ګټې نسبت / Cost benefit ratio | | 1.719 |

منبع: د ساحې څخه را ټول سوي معلومات

**3 - د لویو کروندو د تولید لګښت، مجموعي او خالص عواید:**

په ناوې ولسوالۍ کې هغه کروندګر چې 6 – 4 جریبه د پنبې کرونده لري په اوسط ډول 3659.4 کیلو ګرامه د پنبې حاصل په یو فصل کې تر لاسه کوي. یوه څېړنه په مانسیا ولایت کې د پنبې د تولید اړوند تر سوې ده. د تولید اندازه یې په اوسط ډول 569,1 کیلو ګرامه او فی جریب یې 690 کیلو ګرام ښودلې ده. (Ugurlu., 2020). د تولید مجموعي لګښت یې 103629 افغانۍ دی همدارنګه (Reddy et al., 2020) له لوري یوه

څېړنه د تیلنګانا ایالت په ورنګل ولسوالی کې د پنبې د تولید اړوند تر سره سوې ده د تولید لګښت یې په اوسط ډول 87806.51 شودلی دی. د نوموړي د څېړنې پایله زموږ د څېړنې د پایلې سره ډېر ورته والی لري. د لوی سایز کروندګر د خر خلاو عواید په اوسط ډول 165404.88 افغانی، خالص عواید یې 61775.88 افغانی او د هر فصل څخه پر في جریب څمکه 609.9 کیلو ګرامه د پنبې حاصل تر لاسه کوي، چې د هر جریب خالص عواید یې په اوسط ډول د 10295.98 افغانیو سره مساوي دي (۷ جدول).

**5 جدول: د لویو کروندو د تولید لګښت، مجموعي او خالص عواید**

| شماره | مشخصات | | مبلغ (افغانی) |
|---|---|---|---|
| 1 | د خر خلاو مقدار په کیلو ګرام | | 3659.4 |
| 2 | د في کیلو ګرام قیمت | | 45.2 |
| 3 | د خر خلاو مجموعي عواید | | 165404.88 |
| 4 | د تولید لګښت | | |
| 5 | د ځمکې اماده کول | | 6568 |
| 6 | ابیاري | | 6934.88 |
| 7 | کیمیاوي کود | UREA | 13588 |
| | | DAP | 26530 |
| 8 | کیمیاوي درمل | | 7988 |
| 9 | تخم | | 7078 |
| 10 | روز مزد | | 4473.2 |
| 11 | بزګري | | 20206 |
| 12 | زکات | | 8287.92 |
| 13 | استهلاک | | 1975 |
| 14 | د تولید مجموعي لګښت | | 103629 |
| 15 | خالص عواید | | 61775.88 |
| 16 | د حاصلاتو مقدار في جریب په کیلو ګرام | | 609.9 |
| 17 | في جریب خالص عواید | | 10295.98 |
| 18 | د ګټورتیا نسبت / Profitability ratio | | 0.596 |
| 19 | د لګښت د ګټې نسبت / Cost benefit ratio | | 1.596 |

**منبع: د ساحې څخه را ټول سوې معلومات**

## د پنبې د مارکېټینګ چېنلونه:

د څېړنې په نتیجه کې د مارکیټینګ دوه چېنلونه و موندل سول چې په لاندې ډول سره دي.

1- په لومړي چېنل کې تولید کوونکي خپل اجناس پر عمده فروش پلوري او عمده فروشان خپل اجناس پر مصرف کوونکو پلوري. په یاده ساحه کې دغه چېنل کاروونکي 35 کسان وه چې 44% جوړوي (5 شکل).

2 - په دوهم چېنل کې تولید کوونکي خپل اجناس پر عمده فروش پلوري او عمده فروشان خپل اجناس پر پرچون فروشانو پلوري او پرچون فروشان خپل اجناس پر مصرف کوونکو پلوري. په یاده ساحه کې د دغه چېنل کاروونکي 40 کسان وه چې 56% جوړوي (5شکل).

**3 شکل: د مارکېټینګ چېنلونه**




**منبع: د ساحې څخه را ټول سوې معلومات**

**د پنبې په تولید کې ستونزې:**

د څېړنې په نتیجه کې مو مشاهده کړه چې د کروندګرو لویه ستونزه چې دوی ور سره لاس او ګریوان دي د اوبو کمښت دی، چې (100%) دی (8 جدول).

**6 جدول: د پنبې په تولید کې ستونزې**

| شماره | د ستونزې ډول | د ځواب ور کوونکو شمېر | درجه |
|---|---|---|---|
| 1 | د اوبو کموالی | 75(100%) | لومړی |
| 2 | مرضونه | 57(95%) | دوهمه |
| 3 | اصلاح سوو تخمونو نشتوالی | 54(90%) | دریمه |
| 4 | د منظم مارکیټ نشتوالی | 42(70%) | څلورمه |
| 5 | افتونه | 36(60%) | پنځمه |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

## پایله

د څېړنې په نتیجه کې مو دا و موندل چې د کوچنۍ، میانه او لوی کروندې د تولید لګښت په تر تیب سره (31827.64) ، (67520.6) او (103651.88) افغانۍ په اوسط ډول دی. په عموم کې د څېړنې څخه داسې پایله لاسته راغلې ده، چې د لوی سایز کرونده ګرو د تولید لګښت د کوچنۍ او میانه کرونده ګرو په پرتله زیات دی، د څېړنې په نتیجه کې مو دا مشاهده کړل چې د کوچنۍ، میانه او لویې کروندې مجموعي عواید په تر تیب سره (48985.2)، (111587.2) او (152798.4) افغانۍ په اوسط ډول دي. همدارنګه د لوی سایز کرونده ګرو مجموعي عواید د کوچنۍ او میانه کروندګرو په نسبت زیات دي. د څېړنې په نتیجه کې مو دا تر لاسه کړل چې د کوچنۍ، میانه او لویې کروندې خالص عواید په تر تیب سره (19315.56) ، (44066.6) او (35586.6) افغانۍ په اوسط ډول په لاس راغلي دي. همدا ډول د لوی سایز کرونده ګرو خالص عواید د کوچنۍ سایز کرونده ګرو په پرتله زیات او د میانه سایز کرونده ګرو په نسبت کم دي.

## وړاندیزونه

1: کروندګر باید منظم ساتنځایونه جوړ کړي، تر څو خپل حاصلات په ښه ډول خوندي کړي.

2: دولت باید کروندګرو ته منظم مارکیټ جوړ کړي او همدارنګه اصلاح سوي تخمونه ورکړي، ترڅو کروندګر ډېر حاصلات واخلي او په ښه ډول یې خرڅ کړي.

3: تجاران باید د پروسیس په برخه کې فابریکې جوړې کړي، ترڅو حاصلات پروسیس کړي او بېله دې چې نورو هیوادونو ته پنبه په غیر پروسس سوي ډول صادر سي باید په هیواد کې دننه پروسس سي او بیا نورو هیوادونو ته واستول سي او د ټولني اړتیاوې پوره کړي.

## اخځلیکونه


ډاډ من، محمداغا.، (۱۳۹۱). د صنعتي نبا تاتو تو لید. مومند خپرند 1. ویه ټولنه – ننګر هار، ص ۸۶-۸۹.

راد من، حفیظ الله.، زاده، علی کرامت.، جولایی، را متین.، 2. (۱۴۰۰). په افغانستان کې د پنبې د تولید اقتصا دي سروې. *مجله پژو هش های پنبه ایران، جلد ( ۹ ) شماره (۲)* ۴۱-۶۲.

3. Ahmad, D., Chain, M. I., Rauf, A., and Afzal, M. (2016). Economic Analysis of Cotton Cultivation Under Agro-Climatic Conditions of District Muzaffargarh, Pakistan. *American-Eurasian J. Agric. & Environ Sic, 16* (*8*), 1498-1503.

Production in Bhadradri Kothagudem District of Telangana. *Biological Forum – An International Journal 14*(*1*), 1751-1756.

10. Reddy, p. Srikanth., Ail Baba, Md., Kumari, V., & Chary, S., (2020). *An International Refereed, Peer Reviewed & Indexed Quarterly Journal in Science, Agriculture & Engineering, 5* (13), 2277-7601.

11. Turhan, S., Siamardov73-80., M., (2020). Cost Analyses of Cotton Production in Tajikistan. *Journal. BIOL. ENVIRON. SCI., 14* (*41*),

12. Uzundumlu, A., Zeynalova, A., and Engindeiz, S., (2023). Cotton production forecasts of Azerbaijan in the 2023-2027 periods, *International Research Journal of Food and Agricultural Organization, 60 (2), 235-245.*

13. Ugurlu, M., (2020). Pamuk Üretiminin Economic Analysis*: Manisa Örneği, Uluslararası Tarla Bitkileri Congress Özel Sayısı, 13* (10), 206-217.

14. Zeleke, M., Adam, M., Aynalem, M., & Mossie, H., (2019). Cotton production and marketing trend in Ethiopia: *A review. Cogent Food & Agriculture,* 5(*1*), 566-577.

4. Ahmad, A., Kumar, D., Majadidi, N., Rafi, B., and Wasifhy, M. K. (2017). Integrated farming systm for Helmand Province, Afghanistan. *International Journal of Advanced Education and Research, 2*(5) 62-67.

5. Aytop, Y., Sahin, Z., and AK bay, C., (2022). Economic efficiency of cotton production in Turkey, *Journal* of *Economic efficiency of cotton production in Turkey, 17* (5), 267-277.

6. Karli, B., Kart, F, M., Gul, M., & Akplnar, M, G., (2017). COST AND PROFIT ANALYSIS IN COTTON PRODUCTION IN ŞANLIURFA PROVINCE, TURKEY.

Scientific Papers Series Management, Eco*nomic Engineering in Agriculture and Rural Development, 17* (2), 2284-7995.

7. Khan, M. A., Wahid, A., Ahmad, M., Tahir, M. T., Ahmed, M., Ahmad, S., & Hasanuzzaman, M. (2020). World cotton production and consumption: An overview. *Cotton production and uses: Agronomy, crop protection, and postharvest technologies*, 1-(*7*), 544-566.

8. Niranjan, S., Balaganesh, G., and Jamaludheen, A., (2017). An analysis of trend in production, consumption and trade of cotton in India. *International Research Journal* of *Agricultural Economics and Statistics,* 8 (2), 293-298.

9. Priyadarshini, B. J., Sinha, D. K., Ahmad, N., and Singh, K. M. (2022). Economic Analysis of Cotton

## An Economic Analysis of Cotton Production in Nawa District, Helmand Province

Mir Wais Nazari[1*] and Mohammad Din Khadim[2]

[1]Lecturer, BBA Department, Economics Faculty, Bost University

[2]Agronomy Department, Agriculture Faculty, Helmand University

Corresponding Author Email: mw.nazari@hotmail.com

## Abstract

This study was conducted in 1402 year under the title of "an economic analysis of cotton production in Nawa district of Helmand province". The key aim of the research is to determine the cost of production, to analyze the total and net income of cotton production, to find out marketing channels and to study the constraints in cotton production as well as to recommend solutions. For the research, we purposively selected Nawa district and (75) respondents were selected randomly as well as five villages in order to obtain primary data through interview and questionnaire method. However, we divided the farms of the respondents into three categories, small (1-2) Jeribs, medium (2-4) Jeribs and large (4-6) Jeribs and from each category (25) farms were randomly selected. In the study, we found that the production cost of small, medium and large farms were (31719.32), (67484.52) and (103629) Afghani respectively. The income of the small medium and large farms reached to (51751.26), (116042.752) and (165404.88) Afghanis respectively. The net income of the small, medium and large scale farms were (20032.26), (48558.232) and (61775.88) Afghani respectively. Lack of water, lack of improved seeds diseases, pests, lack of regulated market, lack of public awareness of growers, lack of process factories and poor quality of chemical Fertilizers and pesticides are among the main problems of cotton production.

**Keywords:** cotton production, gross revenue, net revenue, marketing channels and problems.

# BOST

Academic & Research National Journal

Volume: 3

Issue: 2

Year: 2025